ایا دا عذر لرونکې که بې عذره غیرحاضري ده؟

په فدرال وې دولتي ښوونځیو کې مور غواړو له هر زده کونکي سره مرسته وکړو چې هره ورځ، په لیوالتیا ټولګي ته حاضر شي او زده کړې ته چمتو وي. غیر حاضري کېدای شي په چټکۍ سره اضافه شي او پر هغه زده کونکو باندې منفي اغیزه ولري چې پرمختللو تعلیمي پروګرامونو ته ځان رسوي. مهرباني وکړئ ددې لارښود پاڼي څخه استفاده وکړئ تر څو د عذر لرونکي او بې عذره غیرحاضرۍ په پېژندلو کې درسره مرسته وکړي.

په ښېرنیو حالاتو کې د ښوونځي د بندیدو پرمهال غیرحاضري عذرلرونکې ګڼل کېږي

د زده کونکي د ناروغۍ، روغتیایي حالت، یا طبي ملاقات اړوند غیر حاضري.

د کورنۍ د یو غړي د پاملرنې اړوند غیرحاضري.

د ښوونځي په منظم ډول ټاکل شوي ساعتونو کې د زده کونکي د کورنۍ مسؤلیتونو پورې اړوند غیر حاضري چې په لنډمهاله توګه اړین دي.

په ټاکل شویو منظمو درسي ساعتونو کې د کاري مهال ویش یا د زده کونکي د والدینو د نورو مکلفیتونو له امله غیر حاضري، تر څو چې نور ترتیبات ترسره کېږي.

بې عذره غیر حاضري

آیا ستاسو حالت په لیست کې نه دی ذکر شوی؟ د خپل ښوونځي سره اړیکه ونیسئ ترڅو پوښتنه وکړئ چې ایا مدیر یا د هغه مرستیال کولای شي ستاسو غیر حاضري د عذر له مخې وګڼي.

د هغه فعالیتونو لپاره چې د والدینو یا لخوا تصویب شوي وي چې له مخې یې د دوو ورځو څخه ډیره غیر حاضري وي (مخکې تنظیم شوې غیرحاضري)، نو ډاډ ترلاسه کړئ چې د مراسمو څخه لږ تر لږه درې ورځې مخکې د دا ډول غیر حاضرۍ غوښتنې فورمه وسپارئ. د تعلیمي حوزې د مخکې تنظیم شوي غیرحاضري فورمه دلته موندلای شئ: www.fwps.org/Page/581



د عذرلرونکي او بې عذره غیر حاضري په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د اداري 3122 او 3122P پالیسي او طرزالعملونو ته مراجعه وکړئ دا پالیسیانې دلته موندلای شئ: www.fwps.org/Page/502

عذر لرونکې غیر حاضري

د واشنګټن ایالت د قانون له مخې، لاندې د غیر حاضرۍ او ښوونځي ته د ناوخته راتګ لپاره معتبر عذرونه ګڼل کېږي:

د ښوونځي تصویب شوي فعالیتونه، لکه د ورزش یا هنر فعالیت کې ښکیلتیا، وینا او مناظرې او نور. د ښوونځي لخوا تصویب شوي فعالیتونه، لکه په سپورت یا هنري فعالیت کې برخه اخیستل، ویناوي، مناظره او داسې نور.

ناروغي، روغتیایي ستونزي یا طبي ملاقات.

د کورنۍ بېرنۍ حالت، چې په دې کې په کورنۍ کې د یوچا مړینه یا ناروغۍ هم راځي خو یواځې تر دې پورې محدود ندي.

مذهبي یا کلتوري مراسم لکه اخترونه یا مذهبي لارښوونې.

محکمه، قضایي بهیر، د محکمې د حکم له مخې یو فعالیت، یا د قضایي هئیت خدماتو چارې.

د ثانوي زده کړو وروسته، تخنیکي ښوونځي یا د حرفوي زده کړو پروګرام، یا د سکالرشپ اړوند مرکې ته حاضرېدل.

د دولت لخوا پېژندل شوي د لټون او ژغورنې فعالیتونه.

هغه غیر حاضري چې په مستقیم ډول د زده کونکي د بې کوره کیدو یا د پالونکي پاملرنې حالت سره تړاو ولري.

د ګمارنې اړوند د هغه فعالیتونو لپاره غیرحاضري چې د والدینو یا قانوني سرپرست لخوا ترسره کېږي چې دوی ددې فعالیت یو فعال غړی وي.

د انضباطي/اصلاحي عمل له مخې غیرحاضري (د بیلګې په توګه، لنډمهاله یا اوږدمهاله تعلیق، بېرنۍ اخراج).

د زده کونکو د خوندیتوب او اندیښنو له امله غیر حاضري چې په دې کې د ګواښونو، بریدونو، یا ځوروني له مخې غیرحاضري شامله ده.

د زده کونکي د کډوالۍ حالت له امله غیر حاضري.

د ښوونځي مدیر (یا د هغه ځایناستی) او والدین، سرپرست، یا خپله پرېکړه کونکي ځوانان په دوه اړخیزه توګه د تصویب شوي فعالیت سره موافق شي. د والدینو لخوا تصویب شوي فعالیتونو لپاره غیرحاضري کېدای شي په هغه صورت کې تصویب نشي که چېرې دا غیرحاضري د زده کونکي پر تعلیمي پرمختګ جدي منفي اغیزه وکړي.

د زده کونکي د لازمي تدریسي وسایلو د نشتوالي له امله غیر حاضري (انټرنیټ ته د لاسرسي یا ارتباط په شمول).